مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د فبرورۍ ځلورمه | ۵۰۸مه گڼه

# پر ملکیانو خونړي بریدونه او د امریکا غوښتنې؛

## پامپیو: طالبان دې ضمانت راکړي چې جگړې کموي او بین الافغاني خبرو ته حاضرېږي



۳

د امریکا د سفارت اعلامیه او څو خبرې
۲ مخ

کرونا وایروس؛ پر چین او نړۍ یې اغېزې
۲ مخ

د ټرمپ پلان؛ اسراییل څه گټي او فلسطینیان څه بایلي؟
۳ مخ

## راپورونه: په کندوز کې د هوایي برید له کبله یو ښوونځی او یو کلینیک ویجاړ شوي

د کندوز حکومتي مسوولینو ویلي چې د افغان ځواکونو په هوایي برید کې په گل تپې ولسوالۍ کې یو ښوونځی او یو کلینیک ویجاړ شوي دي.
د کندوز د پوهنې ریاست د معارف شهر مدیر جنت گل ناصري ویلي چې وړمه شپه افغان هوایي ځواکونو د گل تپې ولسوالۍ په درمن سیمه کې پر یوه ښوونځي برید کړی دی.
هغه ویلي چې د دغه برید په پایله کې د ښوونځي درې خونې، احاطوي دېوال او ښیښې له منځه تللې دي. د نوموړي د معلوماتو له مخې، په دغه برید کې چا ته مرگ ژوبله نه ده اوښتې.
دغه راز د گل تپې ولسوال نبي کاکړ پژواک ته ویلي چې د درمن ښوونځی او درمن کلینیک د جگړې د لومړۍ کرښې په سیمه کې دي، نو کېدای شي لږ څه زیان ورته اوښتی وي.
هغه زیاته کړې: «زه د ښوونځي او کلینیک بمبار په کلکه ردوم، د جگړې په سیمه کې دي، کېدای شي لږ څه زیانمن شوي وي.»
بل لور ته د سیمې یوه اوسېدونکي فریدون پژواک ته ویلي چې وړمه ورځ ناوخته د درمن سیمې ښوونځی او کلینیک بمبار شوي چې دواړه لږ تخریب شوي دي.
همدارنگه په کندوز کې د ۲۱۷ پامیر قول اردو وياند هادي جمال ویلي چې امنیتي ځواکونو وړمه شپه په گل تپې سیمه کې د وسله والو مخالفینو د درملنې مرکز په نښه کړی دی.

## د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د شرایطو اېښودل، سولې ته نه ژمنتیا ښیي



۵ مخ

## ارگ در پاسخ به ریاست اجرائیه:


## روند آغاز شدهٔ اصلاحات در اداره‌های دولتی عملی می‌شود



دفتر ریاست جمهوری افغانستان در واکنش به یک دستور عبدالله عبدالله به وزارت خارجه می گوید، آوردن اصلاحات در نهادهای دولتی از اولویت‌های حکومت است و روندی که برای آوردن اصلاحات آغاز شده است عملی خواهد شد.
پس از آغاز روند آوردن اصلاحات در وزارت خارجه ریاست اجرائیه در فرمان رسمی خواستار متوقف شدن بی‌درنگ این روند شده است. در حکم ریاست اجرائیه که با امضای عبداالله عبدالله پخش شده، از وزارت خارجه خواسته شده: «با توجه به مواد توافقنامه حکومت وحدت ملی و به منظور حفظ پرستیژ و نیز منافع ملی و بین‌المللی جمهوری اسلامی افغانستان، به وزارت خارجه هدایت داده می‌شود که در این مقطع حساس زمانی و در آستانه اعلام نتایج انتخابات از هرگونه اجراآت تحت نام اصلاحات در مرکز و نمایندگی‌های سیاسی آن وزارت در خارج جدا اجتناب ورزد.»
امید میثم، معاون سخنگوی ریاست اجرائیه می گوید که ریاست عمومی دفتر و دارالانشای شورای وزیران موظف شده‌اند تا از تطبیق این حکم نظارت کنند.
وی افزوده است: «ما نگران این هستیم که ارگ می‌خواهد با بهره‌وری از نام اصلاحات، اعضای تیم خود را بگمارد. این یک گپ روشن است که وزارت خارجه یک نهاد مهم حکومت افغانستان است و برخورد سلیقه‌ای با آن پذیرفتنی نیست.»
اما دفتر ریاست جمهوری می گوید، آوردن تغییرات و تبدیلی‌ها در نهادهای دولتی یک اصل است و آوردن اصلاحات در شماری از نهادهای دولتی اولویت رئیس جمهور است.

## خبره
۴ مخ

## داستایوفسکي



دی وایي، دنیا له خپلو ټولو سختیو، ستونزو او نابرابریو سره ښایسته ده، ځکه خدای پیدا کړې ده. که یو څوک د دنیا له ټولو موجوداتو سره مینه ولري، نو ټولې ستونزې او عذابونه توجیه کولی شي.

## د کابل په زرغون ښارگوټي کې نوې فابریکې پرانیستل شوې دي



په کابل کې د زرغون صنعتي ښارگوټي مسوولینو په کابل کې څو نوې جوړې شوې فابریکې پرانیستې دي.
د دغه ښارگوټي رییس محسن امیري ویلي، دا فابریکې به په بېلابېلو برخو کې فعالیت وکړي او زرگونو کسانو ته به پکې کاري فرصتونه هم رامنځ ته شي.
هغه زیاته کړې: «نن ورځ (پرون) څلور فابریکې په عملي ډول خپل کار پیلوي او دا فابریکې د برېښنا د پایو جوړولو، د بېتریو تېزابو او د خوراکي توکو د تولیداتو په برخه کې دي.»
نوموړي دغه راز ویلي چې په زرغون صنعتي ښارگوټي کې نږدې ۱۵۰۰ فابریکې طرحه او ډیزاین شوې چې له ډلې یې ۳۰۰ هغو ته ځمکه وېشل شوې او ۲۵ پکې عملاً فعالې دي.
ښاغلي امیري زیاته کړې چې دا مهال ۱۵۰۰ کسان په دغه ښارگوټي کې پر کار بوخت دي او د ټولو کارخونو په فعالېدو سره به یو لک کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

Aksos Book Stote
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
Aksos Book Store
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
0798-98-9696, 0202504652

## دریځ

### د امریکا د سفارت اعلامیه او څو خبرې

په کابل کې د امریکا سفارت ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له سیاستوالو، مدني فعالینو، ولسمشر غني، ډاکټر عبدالله او پخواني ولسمشر حامد کرزي سره په خبرو کې ټینګار کړی چې د بین الافغاني خبرو لپاره باید ژر تر ژره یو ملي او ټولمنلی پلاوی وټاکل شي.
سفارت په دغه اعلامیه کې ویلي چې افغان جګړه د خبرو له لارې د حل وړ ده او د سولې په برخه کې پر رامنځ ته شوو پرمختګونو سترګې نه شي پټېدلی. په اعلامیه کې ویل شوي چې امریکا له طالبانو د تاوتریخوالي کمول غواړي. په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم ویلي چې له طالبانو سره د سولې هوکړه نهایي شوې، خو طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي.
دا اعلامیه څو مهم ټکي لري او ځینی مسایل روښانوي: لومړی په دې اعلامیه کې د ارګ هغه خبرې رد شوې چې ګواکې خلیلزاد ولسمشر غني ته ویلي چې د سولې په خبرو کې پرمختګ نه دی شوی. دویم دا چې دوی لا هم له دې اړخه ناراضه دي چې د بین الافغاني خبرو لپاره د حکومت له خوا پلاوی نه دی ټاکل شوی. خلیلزاد د خپل ماموریت له پیل سره سم د دغه پلاوي د ټاکلو غوښتنه کوي، خو دا غوښتنه تل د حکومت له خوا جدي نه ده ګڼل شوې او آن د پلاوي د ټاکلو لپاره د حکومت هڅې هم د سیاستوالو او حکومت ترمنځ د نفاق او اختلاف سبب شوې دي، چې ښایي په قصدي او شعوري ډول دا کار شوی وي.
څه چې د سفارت اعلامیه او پامپیو یې د تاوتریخوالي د کمولو په نوم یادوي، په هغه برخه کې پرمختګ شوی دی. طالبانو ویلي چې تاوتریخوالی کموي او په دې اړه یې یوه طرحه هم امریکایي لوري ته سپارلې ده، خو امریکایي لوری نوي نوي شرایط وړاندې کوي. له دې ښکاري چې امریکا غواړي د سولې هوکړه لاسلیک شي، خو دا کار باید یو څه وخت وروسته وشي او اوس باید ځنډ او خنډ جوړ شي. له همدې امله پر بین الافغاني خبرو او د دغو خبرو لپاره د پلاوي پر ټاکلو ټینګار کوي. دا روښانه ده چې امریکا د تاوتریخوالي کمول پلمه کوي او د سولې د هوکړه لیک لاسلیک ځنډوي. د دغه کار د ځنډولو یو لامل دا کېدلی شي چې ټرمپ او په امریکا کې واکمن ټیم غواړي چې د سولې دا هوکړه لیک په داسې وخت کې لاسلیک شي چې دوی په امریکا کې د ټاکنو لپاره ترې کار واخلي. له همدې امله ښایي دا ځنډ څو میاشتې نور هم اوږد شي.
د امریکا او طالبانو ترمنځ به هوکړه ژر یا وروسته کېږي، خو پکار ده چې د بین الافغاني خبرو لپاره پلاوی وټاکل شي. په دې برخه کې د حکومت له خوا د ځنډ او خنډ جوړول په واقعیت کې د سولې مخالفت دی، چې نور یې زغمل سخت دي. اوس د دې اړتیا ده چې پلاوی وټاکل شي او ښایي د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې د هوکړه لیک له لاسلیک وړاندې دا خبرې پیل شي. له همدې امله په دې چاره کې باید بېړه وشي او نور د سولې مخالفت ونه شي.

# کرونا وایروس؛ پر چین او نړۍ یې اغېزې

لیکنه: دستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

ووهان چې د چین هېواد مرکزي برخه کې د پروت ولایت هوبي مرکز دی، د تېر کال ډسمبر میاشتې په وروستیو کې د یادې سیمې ځینې وګړي پر کرونا چې یو ډول وایروسي ناروغي ده، اخته شول او تر اوسه یې د چین په ګډون، د نړۍ زیات شمېر هېوادونه له سختې وېرې سره مخ کړي دي. دا چې کرونا وایروس څه ډول پیدا شو او په څه ډول خپرېږي؟ تر اوسه یې څومره اغېزې درلودلې دي؟ درملنه یې شته او که نه؟ په افغانستان کې یې د خپرېدو اټکل څومره کېدلی شي او د مخنیوي لارې چارې یې کومې دي؟ په دې تحلیل کې پرې هر اړخیزه شننه کوو.

### د چین ووهان سیمه

ووهان د چین هېواد په مرکزي برخه کې د پروت هوبي ولایت مرکز دی. د وګړو شمېر یې شاوخوا ۱۱ میلیونو ته رسیږي. د دې سیمې ډېری وګړي د خوراکي توکو په برخه کې د بحري حیواناتو له غوښو ګټه اخلي. په دې سیمه کې د بحري حیواناتو او راز راز ځارویو د غوښو پراخ بازارونه شته. پر همدې بنسټ د یادې سیمې ډېری وګړي له ځارویو سره نږدې اوسیږي او د بحري حیواناتو د غوښو پلورلو کاروبار کوي.

### کرونا وایروس

څو لسیزې وړاندې د دې وایروس اصلي بڼه په حیواناتو کې موندل شوې وه، مګر تېر کال د ډسمبر میاشتې په وروستیو کې د یاد وایروس نوې بڼه په انسانانو کې هم وموندل شوه. د څېړونکو په باور، دغه وایروس یوازې په مار او اسمانځکالي کې موندل کېدلی شي او دا هغه دوه حیوانات دي چې چینایان یې غوښه د نورو ټولو حیواناتو په شان خامه او پخه استعمالوي. یاده دې وي چې چینایان په خوړو کې حلال او حرام یا ښه او خراب نه پېژني؛ بلکې ټول هغه شیان خوري چې په ادیانو معتقد انسانان خصوصاً مسلمانان یې خوراک حرام ګڼي. دغه نوې وایروسي ناروغي ساري ده او کولی شي له یو تن څخه بل ته په اسانه توګه ولېږدول شي. د SARS وایروسي ناروغي چې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ ز کلونو تر منځ د چین په ګډون، د نړۍ په ځینو نورو هېوادونو کې خپره شوې وه، شاوخوا ۸۰۰ تنه یې وژلي وو. د روغتیایي څېړونکو په خبره، کرونا وایروس د خپرېدو کچه ښایي له SARS څخه هم لوړه شي، ځکه تر اوسه یوازې په لومړیو دریو ورځو کې پر یاد وایروس د اخته کسانو شمېر له ۶۲۰۰ څخه لوړ دی. د چین هېواد یې په راتلونکو لسو ورځو کې د لا پراختیا اټکل کوي او په دې توګه کولی شي د ډېرو کسانو ژوند واخلي.

د کرونا وایروس د عام ریزش یا زکام په څېر ناروغي ده، چې اخته تن پکې سر دردي، تبه او د لوړې کچې ریزش لري. مګر توپیر یې له عام یا موسمي زکام سره په دې کې دی چې موسمي زکام له یو تن څخه ۱.۵ تن ته سرایت کولی شي، په داسې حال کې چې کرونا وایروس کولی شي له یو تن څخه آن ۳.۵ تنو ته انتقال شي چې د وینې کموالي لامل هم ګرځي او نور کسان پر دې وایروسي ناروغۍ په تېزۍ سره اخته کړي.

په چین هېواد کې تر اوسه د ۱۴ زرو تنو په شاوخوا کې پر یادې وایروسي ناروغۍ اخته شوي، له دې ډلې څخه زیات شمېر اخته کسان په ووهان سیمه کې دي او یادې وایروسي ناروغۍ تر اوسه ۲۵۹ تنه وژلي دي. د وژل شویو کسانو له نیمایي څخه زیاته برخه د ووهان سیمې اوسېدونکي دي، هغه ځای چې د لومړي ځل لپاره پکې دغه وایروسي ناروغي راټوکېده. مګر په هانګانګ کې څېړونکي بیا اټکل کوي چې یوازې په ووهان سیمه کې به ۴۴ زره تنه پر یاد وایروس اخته شوي وي.

له چین پرته په تبت سیمه او د نړۍ په شاوخوا ۲۵ هېوادونو کې د کرونا وایروس خپرېدل ثبت شوي دي. له هغې ډلې جاپان، جرمني، فرانسه، کاناډا، تایلنډ او وروستی هېواد چې د یاد وایروس د شتون پېښه پکې ثبت شوې، عربي متحده امارات او ځینې نور هېوادونه دي.

په جاپان او جرمني هېوادونو کې هغه کسان چې پر یاد وایروس اخت شوي، چین ته یې سفر نه دی کړی، ولې له هغو کسانو سره نږدې پاتې شوي وو چې په دې وروستیو کې له چین هېواد څخه یادو هېوادونو ته ورستانه شوي دي.

### د کرونا وایروس مخنیوی او درملنه

د کاناډا هېواد ټورنټو کې د Humber river hospital همبر ریور روغتون ډاکټر ښاغلي Michael Gardam میخایل ګارډم چې د ساري ناروغیو په برخه کې پراخې زده کړې او تجربې لري، د کرونا وایروس په اړه وایي: تر اوسه دا ډېره لرې ده څو څرګنده کړو چې دا وایروس په څه ډول خپرېږي او درملنه یې باید په کوم ډول تر سره کړو؟

تر اوسه د کرونا وایروس د درملنې لپاره کوم واکسین نه دی جوړ شوی؛ مګر د روغتیا پالانو په باور هغه څه چې کولی شي د یاد وایروس د انتقال مخه ډب کړي، پر صابون د لاسونو وینځل، د ماسک استعمالول او له هغو کسانو سره چې پر یاد وایروس اخته شوي وي، له هغو څخه لرې اوسېدل دي.

له دې پرته په چین کې ډېری روغتیا پالان پر دې باور دي، دا چې د ووهان سیمې ډېری اوسیدونکي د بحري حیواناتو له غوښو څخه ګټه اخلي او له ځارویو سره نږدې پاتې کېږي، هغوی ته پکار دي څو له خامو غوښو او ځارویو څخه لرې پاتې شي، ځکه په ډېر باور ښایي له حیواناتو څخه دغه وایروسي ناروغي انسانانو ته لېږدول شوې وي.

تېره چهارشنبه د استرالیا هېواد ځینو ساینسپوهانو خبر ورکړ، چې په لیبراتوري کې یې د کرونا وایروس جوړېدو بڼه په بریالۍ توګه وازمایله او دا کار کولی شي د نړۍ په کچه د یاد وایروس د خپرېدو مخې ډب کولو کې په اغېزناکه توګه مرسته وکړي. چین د کرونا وایروس د مخنیوي او کنټرول لپاره ۲۷.۳ بیلیون یوان ځانګړي کړي دي.

### د کرونا وایروس اغېزې

د کرونا وایروس تر پیدا کېدو وروسته، د ووهان سیمه په مصنوعي توګه بنده شوې او خلک یې قرنطین شوي دي. هیڅوک نه شي کولی له یادې سیمې څخه بلې سیمې ته ولاړ شي او یا نور څوک دې سیمې ته راشي.

تقریباً په ټول چین کې کاروبار په ټپه ولاړ دی او په چین کې د نوي لمریز کال د لمانځلو مراسم یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي.

هغو کسانو چې د نوي کال لمانځلو لپاره یې سوداګریزې بوختیاوې تر سره کړې، له پراخو زیانونو سره مخ شوي، ځکه هیڅوک نه شي کولی د کرونا وایروس خپرېدو له وېرې چین ته سفر وکړي او یا هلته په یادو مراسمو کې ګډون وکړي. یوازې د ماسک پلورلو بازار تود دی، ځکه هر څوک کوښښ کوي څو ډېر شمېر ماسکونه راونیسي څو پر وایروس له اخته کېدو څخه وژغورل شي.

کرونا وایروس د چین د اقتصاد تر څنګ، د ځینو نورو هېوادونو پر اقتصاد هم ناوړه اغېزې کولی شي. د ملګرو ملتونو د توریزم یا سیاحت نړیوالې ادارې پر بنسټ، یوازې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۱۶۸ میلیونه چینایان بهرنیو هېوادونو ته په سیاحت تللي وو او د ۲۷۷ بیلیونو ډالرو په شاوخوا کې یې مصارف کړي وو، چې د یادو هېوادونو په ملي عوایدو کې یې ښه ونډه لرلې وه. مګر اوس د یاد وایروس د خپرېدو له وېرې، چین ته او له چین څخه نورو هېوادونو ته د توریزم یا سیاحت په برخه کې په هر ډول تګ راتګ پراخه او سخت بندیزونه لګېدلي دي.

اقتصاد پوهان باور لري که چېرته د چین هېواد بهرنیو هېوادونو ته د خپلو وګړو په سفر بندیز تر شپږو میاشتو دوام ورکړي، نو دا کار کولی شي د نړۍ توریزم یا سیاحت په برخه کې ۸۳.۱ بیلیون ډالر زیان واړوي چې د نړۍ اقتصادي ځواک تر ۰.۱ فیصده پورې را ښکته کولی شي. په امریکا او جاپان کې پالیسي جوړوونکو ګواښ کړی چې کرونا وایروس به پر نړیوال اقتصاد ناوړه اغېزې ولري او تر دې دمه یې د جاپان پر صادراتو او د عامه کمپنیو ګټو اغېزمنې کړې دي.

افغانستان چې په دې وروستیو کې چین هېواد ته د پخوا په پرتله ډېر صادرات لري او له هغه هېواد څخه ځینې توکي رالېږدوي، د کرونا وایروس غځېدنه کولی شي په اغېزناکه توګه دا هېواد له اقتصادي ستونزو سره هم مخ کړي.

بلخوا روسیې له چین سره خپلې پولې وتړلې، چې پر نړیوال مارکیټ ناوړه اغېزې لرلی شي. په هند کې هم د کرونا وایروس لومړنۍ پېښه ثبت شوې او که چېرته په اړین وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان د سویلي آسیا هېوادونو په اړه د کرونا وایروس د مخنیوي لپاره ګامونه پورته نه کړي، نو لرې نه ده چې د سویلي آسیا هېوادونه به له زیاتو هر اړخیزو ستونزو سره مخ کړي. دا ځکه چې په سویلي آسیا کې د افغانستان، بوتان او ځینو نورو هېوادونو شتون چې د اقتصادي ځواک کچه یې ښکته ده او د درملنې په برخه کې یو اغېزمن سیستم نه لري، څو د یاد وایروس مخنیوی پرې وکړي.

### څه باید وشي؟

که څه هم د چین هېواد ووهان سیمه کې د کرونا وایروس د مخنیوي او درملنې لپاره تر راتلونکې یک شنبې ورځې پورې د څو زره بستریز روغتون جوړېدو چارې چې په لسو ورځو کې یې د جوړېدو اټکل شوی، ګړندۍ کړې دي او کولی شي د یادې سیمې خلکو ژوند وژغوري؛ مګر اړینه ده څو د استرالیا په څېر د نړۍ ځینې نور پرمختللي هېوادونه د شته او پرمختللیو امکاناتو لرلو څخه په ګټې اخیستنې سره د کرونا وایروس د مخنیوي واکسین ژر تر ژره تولید کړي. څو د چین په ګډون، ټوله نړۍ له دې ناوړه وایروس څخه وژغورل شي.
افغان چارواکي باید په چین هېواد کې د افغان محصلینو او هغو افغان کاروباریانو او سوداګرو، چې په یاد هېواد کې اوسیږي، د هغوی په برخه کې نور هم د چینایي چارواکو جدي پاملرنه جلب کړي، څو له هغوی سره هر راز اغېزناکې مرستې وکړي.
په هېواد کې د درملنې او تشخیص په برخه کې د کمزوري سیستم په لرلو سره باید هغوی تر هغې هیچا ته اجازه ور نه کړي، څو له چین څخه افغانستان ته سفر وکړي.
بلخوا هغه وګړي چې د نورو هېوادونو لکه عربي متحده اماراتو چې د کرونا وایروس پکې ثبت شوی، افغانستان ته د سفر پر مهال باید په لویو هوایي میدانونو کې له یادو هېوادونو څخه د نویو راستنو شویو وګړو کره تشخیص وشي، څو د معلومو شویو نښو لرونکي کسان له نورو هغو لرې او قرنطین کړای شي او په دې توګه په افغانستان کې د کرونا وایروس مخه ډب کړای شي.

## وانګ یو: په ووهان ښار کې افغان محصلین روغ او خوندي دي

په افغانستان کې د چین سفیر وانګ یو ویلي، د دغه هېواد په ووهان ښار کې افغان محصلین روغ رمټ او خوندي دي.
نوموړي د عامې روغتیا له وزیر فېروزالدین فېروز سره په لیدنه کې ویلي چې چینایي لوری له «کرونا» ویروس څخه د خوندیتوب په موخه، د افغان محصلینو روغتیا ته پوره پاملرنه کوي.
هغه پر خپل ټوېټر لیکلي: «ما هغه ته وویل چې په ووهان ښار کې افغان محصلین روغ رمټ او خوندي دي، چینایي لوری د هغوی پوره پاملرنه کوي، موږ باوري یو چې پر کرونا ویروس باندې به بریالي کېږو.»
په ورته وخت کې عامې روغتیا وزارت هم ویلي چې فېروزالدین فېروز د چین له سفیر څخه غوښتي چې هېواد یې له یاد ویروس څخه د مخنیوي په موخه، د افغان محصلینو روغتیا ته پوره پاملرنه وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د چین ووهان ښار چې د لومړي ځل لپاره «کرونا» ویروس پکې پیدا شو، د روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، ۴۱ افغان محصلین هلته زده کړې کوي.




د یاد ویروس تر خپرېدو وروسته، په چین کې افغان سفیر جاوید احمد قایم وویل چې افغان محصلین د هغه هېواد له خوا قرنطین شوي، چې په یو مناسب وخت کې به یې له ووهان څخه د ایستلو په اړه تدابیر ونیول شي.
خو د افغانستان د عامې روغتیا وزیر ډاکټر فېروزالدین فېروز بیا ووړمه ورځ وویل چې په ووهان ښار کې د بېړني حالت تر پای ته رسېدو مخکې د افغان محصلینو په ایستلو کې باید بېړه ونه شي.
نوموړي که څه هم د افغان محصلینو د روغتیا او را ایستلو په اړه پوره ډاډ ورکړ، خو ټینګار یې وکړ که د یادو محصلینو په را ایستلو کې احساساتي چلند وشي، د افغانستان د ۳۰ میلیونو وګړو ژوند به د «کرونا» ویروس له ګواښ سره مخامخ شي.
هغه همدارنګه ویلي چې تر دې مهاله په افغانستان کې د «کرونا» ویروس پېښه نه ده ثبت شوې او د مخنیوي لپاره یې جدي تدابیر نیول شوي دي.

# د ټرمپ پلان؛ اسراییل څه ګټي او فلسطینیان څه بایلي؟

لیکنه: بي بي سي پښتو

فلسطینیان د منځني ختیځ لپاره د امریکا د ولسمشر پلان غندي او وایي، د دوی په تاوان دی.

په دې پلان کې هغه یهودي مېنې یا ښارګوټي په رسمیت پېژندل کېږي او رواتوب ور کول کېږي چې په نیواکي فلسطین کې جوړې شوې، خو د نړیوال قانون له مخې دا مېنې ناقانونه دي، که څه هم اسراییل پرې دعوه لري.

د دې پلان له مخې، د فلسطین د تر ټولو ښېرازو سیمو ډېره برخه د اسراییلو کېږي او په خپل راتلونکي دولت کې اسراییلو ته پر لوېدیځه غاړه پوره امنیتي کنټرول په برخه کېږي.

دا یوازې سرلیکونه دي، خو یوه فلسطیني ته هم د منلو نه دي.

د تېرې سې شنبې په ورځ له پلان اعلانولو مخکې ان ښاغلي ټرمپ ویلي وو، پوهېږي فلسطیني مشران به دا احساس وکړي چې ولې دا پلان رد کړي. خو ولې دا پلان بیا هم اعلان شو؟ له ولسمشر ټرمپ سره څه مرسته کوي؟ او اوس ولې اعلان شو؟

**نتنیاهو ته ګټه**

د منځني ختیځ د سولې لپاره نوی پلان په نقشه کې دی. د اسراییلو اپوزیسیون مشران هم وایي، دا پلان داسې مهال وړاندې کېږي چې د مارچ په دویمه په دغه هېواد کې ټاکنې دي او دا له اوسني لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو سره مرسته ده.

لومړی وزیر نتنیاهو چې د پلان اعلانولو خبري غونډه کې د ولسمشر ټرمپ څنګ ته ولاړ و، له خوشالۍ په جامو کې نه ځایېده.

دا بې مخینې امتیازونه چې ولسمشر ټرمپ په خپل پلان سره اسراییلو ته ور کړل، داسې څه دي چې ښاغلی نتنیاهو یې له سپینې ماڼۍ سره د خپلو نږدې او نفوذي اړیکو په ډول په خپل کور کې د ځان په ګټه کارولی شي.

د ټرمپ د اداري چارواکي دا ردوي چې اوسمهال د دې پلان اعلانول د ښاغلي نتنیاهو د ملاتړ لپاره دي.

دوی وایي، د منځني ختیځ لپاره له پلان وړاندې کولو مخکې هم په اسراییلو کې دوه ځلې بې نتیجې ټاکنې وشوې.

بې شکه د اسراییلو لومړی وزیر هیله من دی چې د دې پلان اعلانېدل به یې د بډو، درغلۍ او د باور کمېدو د تورونو او ناسمو خبرونو له امله له محاکمې وژغوري، چې رسنۍ او کیڼ لاسي ورپسې دي.

**خپله ښاغلی ټرمپ هم په ورته ستونزو کې ګیر دی.**

د استیضاح تورونو له مخې، ولسمشر ټرمپ د خپلو شخصي سیاسي ګټو لپاره په دې سره خپل واک ناوړه کارولی، چې اوکراین ته یې د سلګونو میلیونو ډالرو پوځي مرسته په دې ځنډولې وه، چې د راتلونکو ټاکنو د ممکنه سیال جو بایډن او د هغه د زوی هنټر بایډن په هکله پلټنې وکړي.

ښاغلی ټرمپ ممکن په دې هیله وي چې د پېړۍ تړون په نوم د خپل پلان ډاګیزولو سره به ځان امریکایانو ته د یوه پیاوړي واکمن په توګه ونښيي.

**د امریکا کورنی فشار**

د سپینې کلیسا یا اوینجلیکل عیسویانو په ۲۰۱٦ ز کال کې د ښاغلي ټرمپ لپاره د رایو یوه پیاوړې ټولګه جوړه کړه او تر ۸۰ سلنه رایه یې ورته برابره کړه.

د دوی ډېری غړي باوري دي چې خدای له یهودانو سره د سپېڅلې ځمکې ژمنه کړې او په ټوله سیمه کې د دوی له واکمنېدلو سره به د عیسی بیا راتللو ته لار برابره شي.

اوس ډونالډ ټرمپ غواړي چې په نومبر کې د دوی رایه بیا تر لاسه کړي.

خپله د ټرمپ په اداره کې اوینجلیکل هم شته، لکه مرستیال ولسمشر مایک پېنس او د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو چې د رپوټونو له مخې، د اسراییلو د پراختیا غوښتنې هیلو د ملاتړ هڅې یې کړې چې په نوي پلان کې هم روښانه شوې دي.

دا هیلې د امریکا د پخوانیو حکومتونو د هغې نظریې د څنډې ته کولو په مانا دي، چې غوښتل یې اسراییل او فلسطینیان څنګ په څنګ دولتونه ولري.

اوینجلیکل عیسویان د ۲۰۱٦ ز کال په ټاکنو کې د ښاغلي ټرمپ لوی ملاتړي وو، خو نور داسې کسان هم شته چې غواړي په تېرو ټاکنو کې د ټرمپ د ملاتړ بدل ووینې او اوس یې دې پلان کې ثمره ویني.

دا هم ایپک یا د اسراییلو ملاتړې تر ټولو ځواکمنه ډله ده چې د ښاغلي ټرمپ د منځني ختیځ پلان هرکلی یې کړی او وایي، د ولسمشر هڅې ستایي.

په دوی کې د سپینې ماڼۍ په ختیځه کوټه کې چې پلان هم پکې وړاندې شو، یو هم میګا ډونر یا شېلډن اډیلسن و.

نوموړي د جمهوریپالو خزانې ته لسګونه میلیون ډالر اچولي او د اټکل له مخې یې په ۲۰۱٦ ز کال کې د ټرمپ له کمپاین سره شل میلیون ډالر مرسته کړې ده.

نوموړی د دې خوځښت سخت ملاتړی و چې بیت المقدس د اسراییلو د پلازمېنې په توګه وپېژندل شي او ان په دغه سیمه کې یې د امریکا د سفارت جوړولو د لګښت په پرې کولو کې د مرستې وړاندیز کړی و. د نوي پلان په لوستلو کې دا هم راځي چې نوموړي په دې برخه کې ولسمشر هڅولی دی.

د ټرمپ د پلان په غبرګون کې د فلسطین مشر ویلي، فلسطین د پلورلو لپاره نه دی. که څه هم دا پلان د نتنیاهو د ملاتړ، له استیضاح ستونزو د پام اړولو، د کورني سیاست لوبولو او یا د یوې نظریې لپاره بلل کېږي، خو خپله هم لوی خطر لري.

دا پلان که اسراییلو ته د نیواک پراخولو سرچینه بلل کېږي، خو ډېرو ته د بدبختۍ سرچینه هم ده.

دا پلان چې فلسطینیانو ته پکې ډېره لږ هیله ور کړل شوې، نو وېره دا ده چې د سیمې تونډلاري راوپاروي.

# پر ملکیانو خونړي بریدونه او د امریکا غوښتنې؛

## پامپیو: طالبان دې ضمانت راکړي چې جګړې کمې او بین الافغاني خبرو ته حاضرېږي



د سولې له هڅو سره هممهاله په افغانستان کې د طالبانو، افغان او بهرنیو ځواکونو تر منځ جګړو شدت موندلی دی. سره له دې چې د معمول له مخې په افغانستان کې د جګړې موسم نه دی، خو بیا هم د بهرنیو او افغان ځواکونو په هوایي بریدونو کې ملکیانو ته درنې مرګ ژوبلې اوښتې دي، چې د کال د راتلونکو میاشتو لپاره یې له خلکو سره جدي اندېښنې پیدا کړې دي. تازه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت بیا ټینګار کوي چې طالبان باید د تاوتریخوالي د کمولو په تړاو امریکا ته ضمانت ورکړي. پامپیو داسې مهال دغه غوښتنه کوي چې د امریکایي لورې په هوایي بریدونو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړې او غبرګونونه یې پارولي دي.

له څو اونیو راهیسې د هېواد په شمال-ختیځو، ختیځو، جنوبي او مرکزي سیمو کې خونړي هوایي بریدونه وشول. په دې هوایي بریدونو کې ملکي وګړو ته درانه تلفات واوښتل. ویل کېږي چې تر ډېره دغه هوایي بریدونه د امریکایي ځواکونو له لوري تر سره کېږي، خو افغان ځواکونه هم پکې ګډ دي.

په کندوز، بلخ، بادغیس، وردګ، کونړ او نورو سیمو کې دغو بریدونو توند غبرګونونه پارولي دي، خو حکومت او امریکایانو له ژمنو سره سره په بریدونو کې کموالی نه دی راوستی.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په ازبکستان کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر سره په ګډه خبري غونډه کې وویل، طالبان باید دوی ته ضمانت ورکړي چې دوی د تاوتریخوالي د کمولو او جګړو د کنټرول وړتیا لري. د ده په خبره، امریکا د سولې تړون لاسلیک ته تیاره ده، خو تر هر څه وړاندې باید طالبان د دې ضمانت ورکړي چې دوی تاوتریخوالی کموي او دغه راز د دې وړتیا لري چې جګړې کنټرول کړي.

پامپیو زیاته کړې: «له طالبانو مو غوښتي څو د اثبات وړ اسناد وړاندې کړي، دا باید ثابته شي چې دوی د جګړو د کمولو وړتیا لري، دوی د خلکو پر وړاندې ګواښونه کمولی شي، همدا راز دوی باید دا ضمانت راکړي چې بین الافغاني خبرو ته به تیارېږي».


پامپیو وایي، پر دې مواردو کار روان دی او تر دې دمه په یادو برخو کې د طالبانو له لوري کوم اقدام نه دی تر سره شوی چې امریکا هیله منه کړي. پامپیو دغه راز د افغانستان ثبات د ټولې سیمې لپاره مهم بللی دی. نوموړي ویلي، له ازبکستان سره یو میلیون ډالر مرسته کوي، څو له افغانستان سره خپلې اړیکې لا پیاوړې کړي او د سولې په برخه کې همکاري ډېره کړي. پامپیو ویلي: «د افغانستان ثبات نه یوازې د دغه هېواد، بلکې د ازبکستان او ټولې سیمې لپاره مهم دی. موږ د سولې او ثبات راوستو ته ژمن یو».

بلخوا افغان سیاسیون بیا وایي چې حکومت د سولې په برخه کې ستونزې جوړوي او د ځینو پرمختګونو مخه نیسي. د دوی په خبره، حکومت د سیاسیونو طرحې نه مني او تر څنګ یې د بین الافغاني پلاوي د جوړېدو پر وړاندې خنډونه جوړوي. افغان سیاستوالو په دې وروستیو کې په یوه لویه غونډه کې وویل، چې دوی به د افغان جګړې د پای او سولې راتګ لپاره طرحه جوړوي. د سولې عالي شورا مرستیال حاجي دین محمد وایي، د سولې طرحه دوی جوړه کړې ده او دا به په افغانستان کې روانه جګړه ختمه کړي.

د هغه په خبره، دوی غوښتل دغه طرحه له زلمي خلیلزاد سره هم شریکه کړي، خو دا موکه برابره نه شوه. هغه ټینګار کوي چې طرحه یې د سولې او بین الافغاني مذاکراتو لپاره زمینه برابروي او ټول موارد پکې په هر اړخیزه توګه ارزول شوي دي.

د سولې او تاوتریخوالي د کمولو په اړه دغه څرګندونې داسې مهال دي چې د روان میلادي کال په لومړۍ میاشت کې د ملکي مرګ ژوبلې لوړې کچې جدي اندېښنې پارولې دي. د بشري حقونو خپلواک کمېسیون تېره ورځ ویلي وو چې که د افغان ځواکونو له لوري ملکیانو ته تلفات اوړي، نو دا مسئله د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ کوي.

# هوا چونینګ: د کرونا ویروس د خپرېدو په تړاو د امریکا اقدامات ګواښوونکي دي



د چین د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د کرونا ویروس د خپرېدو په تړاو د متحده ایالتونو اقدامات ګواښوونکي دي.

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هوا چونینګ ویلي، امریکا نه یوازې دا چې د کرونا د ویروس په مخنیوي کې مرسته نه ده کړې، بلکې په دې برخه کې یې په ګواښوونکو اقداماتو لاس پورې کړی دی.

نوموړې دغه راز زیاته کړې: «د کرونا ویروس د خپرېدو له پیله ډېریو هېوادونو له چین سره مرسته کړې چې موږ یې مننه وی یو، خو امریکا له بده مرغه چې په دې برخه کې مرسته نه ده کړې، بلکې ورځ تر بلې ګواښوونکي اقدامات کوي.»

هغې امریکا ته د چینایي وګړو پر بندیز هم نیوکه کړې او ټینګار یې کړی چې په دې سره به د دواړو هېوادونو اړیکې اغېزمنې شي.

هغې یوځل بیا ټینګار کړی چې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره به له ټول توان او امکاناتو ګټه واخلي او خبرداری یې ورکړی چې که د متحده ایالتونو روان اقدامات ونه درول شي، ناوړه پایلې به ولري.

دا په داسې حال کې ده چې د چینایي رسنیو په خبره، په دغه هېواد کې د کرونا ویروس د قربانیانو شمېر ۳٦۱ رسېدلی او په زرګونو نور کسان پرې اخته شوي دي.

په همدې حال کې چینایي چارواکي خبر ورکوي چې تر اوسه پر یاد ویروس ۱۷ زره کسان اخته شوي او له ۲۱ زرو ډېرې شکمنې پېښې ثبت شوې دي.

د چارواکو په خبره، په ووهان ښار کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو ډېرې نورې پېښې هم ثبت شوې دي.

په همدې حال کې په هانګانګ کې هم ۲۴۴ مشبتې پېښې ثبت شوې چې تر دې دمه پکې دوه تنه مړه شوي دي.

په ورته وخت کې د راپورونو له مخې، د نړۍ په ۲۴ نورو هېوادونو کې هم د کرونا ویروس پېښې ثبت شوې چې تر دې دمه پرې نږدې یو سلو پنځه تنه پر دې ناروغۍ اخته شوي دي.

بلخوا د روغتیا نړیوال سازمان هم تېره اونۍ په ټوله نړۍ کې د دې ناروغۍ د چټک خپرېدو له کبله بېړنۍ حالت اعلان کړی دی.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اخلاق

- لیکوال: جان مکسوېل
- ژباړن: میراحمد یاد

### زرین قانون له تاسو پیل کېږي




دا یوازې د خولې خبره نه وه. مشهور میلیاردر هوارډ هوگس د شلمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې له بویر نه غوښتنه وکړه چې په پارامونټ سینمایي شرکت کې مرسته ورسره وکړي. بویر د هوگیس لیدو ته ولاړ او ډېر ښه چلن ورسره وشو. هوگیس دی پخپله وگرځاوه، چکرونه یې پرې ووهل او خپله جوړه کړې لرگینه الوتکه یې هم ورته وښودله. بیا یې چې د پارامونټ شرکت ستونزې وکتلې او پوه شو چې کاروبار په نامسلکي بڼه کوي، نو ورته وې ویل چې مرسته نشم درسره کولای، په دې خاطر یې د هغه وړاندیز رد کړ. هغه ته تر پیسو ارزښتونه ډېر مهم وو. (۸) هغه له بل کس نه ناوړه گټه نه اخیسته، څوک چې پر زرین قانون سم ژوند کوي، همداسې کوي.

توپیر نه کوي چې تاسو خپل گاونډي ته دروغ وایئ، که له یوه لوی شرکت سره درغلي کوئ؛ هره چاره پر اشخاصو ښه او بد اغېز کوي.

ماروین بویر ته دا اسانه وه چې له هوارډ هوگیس نه یې پیسې اخیستې وای او په بدل کې یې هېڅ ارزښت نه وای ورکړی. ځکه هوگیس لوی میلیادر و، ده دا فرصت نشوی پرېښودای؛ خو اصلي خبره دا نه وه. توپیر نه کوي چې تاسو خپل گاونډي ته دروغ وایئ، که له یوه لوی شرکت سره درغلي کوئ؛ هر چاره پر اشخاصو ښه او بد اغېز کوي.

که ستاسو کار څوک بې ارزښته کوي یا ناسمه گټه ترې اخلي، نو هغوی به داسې وردروي چې هغه درد تاسو خپله ځان ته نه غواړئ.

خلکو ته ورشئ!

د امریکا زیاتره شرکتونه دا درس ببرته له سره زده کوي. دوی د خلکو د ارزښت پر ارزښت بیا له سره ځان پوهوي. دوی بدلونونه راوړي چې له خپلو کارکوونکو سره ښه چلن ترویج کړي. همداسې یو شرکت هوم بینک دی، دا د گروۍ شرکت دی او په اتلانتا کې فعالیت کوي. په دغه شرکت کې تر زرو ډېر کسان کار کوي. دې شرکت یو نیم کال خواري وکړه او په اعلانونو یې نږدې پنځوس زره ډالره ولگول، تر هغې وروسته پوه شول چې دوی د خلکو ستر مدیر ته اړتیا لري.

د دې شرکت رییس پاتریک فلوډ وایي:((په کرکټر کې ډېرې تشې وې، دا تشې په کاروباري دولتي رولونو کې ښکاره کېدلې. اجراییوي رییسان له ځانو راضي شوي وو او ځانونه یې د کاروبار د بریا لاملونه گڼل. دا به رښتیا وي؛ خو موږ اصلي ونډه لرو. اصلي بریالي خلک هغه دي چې اصل باور پورته کوي او هغه کارکوونکي دي.)) (۹) دوی غوښتل چې شرکت پر خپلو خلکو متمرکز پاتې شي او په دوو کالو کې (۵۰)سلنه پراختیا ورکړي. دوی په دې خاطر ډاکټر ډویټ وگوماره، دا یو کشیش و چې له خلکو سره یې اته ویشت کاله تېر کړي وو. که څوک زما ملگري کېږي، نو د شرکت د کاروباري کلتور د مشرۍ مسئولیتونه به اخلي او د رهبرۍ اخلاقي معیارونه به ساتي. دا به ورته ښه وي.

او که له هوم بنک سره په دې کې مرسته کوي چې خلکو ته لومړیتوب ورکړي، نو څه به کوي؟ اسانه ده. خلکو ته به وایي، له نورو سره داسې چلن وکړئ چې خپله یې تمه لرئ.

که یو څوک پر دې پوه شي چې دی له ځان سره څنگه دروند، عزتمن، درک لرونکی او باوري چلن غواړي، نو پر دې اسانه پوهېدای شي چې له نورو سره باید څنگه چلن وکړي.

**۴**

### د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند کول

د امریکا د کالج پروگرام د لوبو د اتلانو په اړه چې فکر کوئ، څه ذهن ته درځي؟ مینه وال، شاگردان او نور مینه وال چې د لوبډلې د بریا لپاره چیغې وهي او هڅوي یې؟ ایا هغه لوبغاړي دریادېږي چې د مقابلې لوبډلې د کمزوریو پر ځای پر خپلو امتیازاتو او قوتونو ډېر تمرکز کوي؟ ایا هغه روزونکي دریادېږي چې ټول ذهني تمرکز یې یوازې پر گټې او بریالیتوب وي؟ که تاسو همدا فکر کوئ، نو بیا به حتما مارک ریچ روزونکی پېژنئ، دی د جورجیا پوهنتون روزونکی و.

دی چې د(۲۰۰۰ز) په ډسمبر کې د جورجیا پوهنتون له لوري وگومارل شو، نو دا تمه ترې کېده چې پر لوبډله به مثبت اغېز کوي. ده هم د نورو هغو خلکو په څېر د گټې تاریخ درلود چې د دغو لوبډلو روزنه یې کوله. سره له دې چې د ځلوېښتو کلو و؛ خو پنځلس کاله کاري تجربه یې درلوده. په دې کې ۷ کاله له فلوریډا ایالاتي پوهنتون سره هم د همغږي کوونکي په توگه کار و. ریچ کې په فلوریډا کې و، لوبډله یې اووه کاله د هیواد په کچه په پنځو غوره لوبډلو کې راتله. ده د جورجیا پوهنتون لوبډله هم ډېره زر بدله کړه. ریچ نه یوازې په دوو فصلونو کې ولایتي اتلولي خپله کړه، بلکې دا لوبډله یې د هیواد په کچه دربیمې درجې ته ورسوله. د ټیم تر پرمختگ دا ډېره د پام وړ وه چې ده داسې څنگه وکړل. د ریچ تمرکز پر اتلولۍ نه و، بلکې پر کرکټر و.

دوام لري...

# داستایوفسکي

شفیق امیرزی


فیودور میخایلویچ داستایوفسکي د روسیې مشهور او اغېزناک لیکوال و. د ده تر ټولو مهمه ځانگړنه دا وه، چې د خپلو داستانونو د کرکټرونو روان ته ننوت او د دوی د روان داخلي زاویې یې سپړلې. د داستانونو ډېری کرکټرونه یې لکه ناروغان، بېوزلان، گناهکاران او رواني کشمکش لرونکي کسان دي. ده په لومړي سر کې خپل کار له ژباړې پیل کړ او د اورژني گرانده په څېر اثار یې وژباړل. د فریډریش شیلر یو اثر یې هم ژباړلی و.

داستایوفسکي په ۱۸۲۱ز کال کې دې نړۍ ته راغلی دی. پلار یې په سن ماري روغتون کې د جراحۍ ډاکټر و. پلار یې د روسیې دنجباوو له کورنۍ و. پلار یې سخت و، د پیسو په لگولو کې محتاط و او پوره سخت گیره سړی و. دا ټول هغه مسایل وو چې د داستایوفسکي پر اثارو یې اغېز درلود او د ده د شخصیت په وده او کنټرول کې یې برخه لرله.

د داستایوفسکي کورنۍ تل حکومتي ماموریت کړی و، خو غریبه وه. لکه مخکې مو چې وویل پلار یې ډېر سخت سړی و. هغه نه یوازې له تجملي کارونو او څیزونو سره علاقه نه لرله، بلکې د ژوند له لومړنیو اسانتیاوو یې هم ځان محروم کړی و. ده غوښتل په دې سختۍ سره خپل ماشومان په سمه توگه تربیه کړي. ده یې په لومړنیو وختونو کې ماشومانو ته ور ښودلي وو، چې باید له سختۍ او بدمرغۍ سره ځان عادت کړي. ده به ویل چې په دې توگه یې اولادونه په ژوند کې مهم مسوولیتونه اخیستی شي. د کورنۍ غړو یې د روغتون په یوه دوه اطاقه اپارتمان کې ژوند کاوه. دوی ټولو په زور ځانونه په دې بلاک کې ځای کړي وو. دوی بهر ته د تگ او چکر اجازه نه لرله، اضافي پیسې یې نه شوی اخیستی، ملگري او خواخوږي یې نه لرل. پلار یې د روغتون د معاش تر څنگ له شخصي کتنځي هم پیسې گټلې. له کلونو وروسته یې په یوه کلي کې یو کور واخیست او ماشومان یې هلته ولېږدول. دوی ایله د ازادۍ خوند وڅکلو او د ژوند له اسانتیاوو تر یوې کچې برخمن شول. ۱۹۳۹ز کال و، داستایوفسکي له زده کړو سره دومره مینه نه لرله. وروسته له دې چې ښوونځی یې بشپړ کړ، د روسیې د جنگ وزارت د انجنیرۍ په برخه کې پر کار بوخت شو. اوس یې له خپلې دندې او پلرنې میراث ښې پیسې گټلې، خو دی د پیسو د ساتلو او مدیریت سړی نه و. یو اپارتمان یې کرایه کړ. له بیلیارد لوبې سره یې مینه لرله، په دې کې نو ډېرې پیسې مصرفېدې. دی یې په کیسه کې نه و، هر خوا یې پیسې بادولې. یو کال وروسته له دې چې له دندې یې استعفا وکړه، تر مرۍ په پورونو کې ډوب شو. له همدې ځایه د ژوند تر وروستیو پورې په پورونو کې ډوب و.

داستایوفسکي لا د جنگ وزارت په انجنیرۍ څانگه کې و، چې د ناول او داستان له لیکلو سره یې مینه لرله او ناول یې لیکلی و. نو اوس اړ شوی و چې د لیکوالۍ له لارې د ژوند لگښتونه پوره کړي. له دې امله یې پر خپلو کتابونو او پلانونو ښه ډېر فکر وکړ. ده د (بې وزله خلکو) ناول لیکلی و، نو ویې غوښتل چې دا ناول چاپ کړي.

یوه ورځ داستایوفسکي ناوخته کور ته راغی، د شپې نږدې څلور بجې وې چې گریگوروویچ او ملگری یې د ده کور ته راغلل. دوی ټوله شپه دغه ناول لوستی و او دومره متاثر شوي وو، چې داستایوفسکي ته یې مبارکي ورکړه. دوی له ناول سخت اغېزمن شوي وو، ویل یې پوهیدل چې داستایوفسکي به ویده وي، خو ویل یې دی باید راویښ کړي. دوی ته ناول دومره خوند ورکړی و، چې په نیمه شپه داستایوفسکي ته ورغلل. وروسته یې ناول د هغه وخت تر ټولو مشهور نقاد بیلنسکي ته ور وښود. ده یې هم ستاینه وکړه او ناول چاپ شو. د دې کتاب تر چاپ وروسته داستایوفسکي مشهور شو او د شهرت پر گدۍ یې پښه کېښوده.



داستایوفسکي له دې بریا سمه استفاده ونه شوی کړی. هغه خجالتي شخصیت و. یوازیتوب یې خوښېده. کله به چې چېرته مېلمه شو او د ادیبانو غونډو ته به بلنه ورکړل شوه، نو په یوه گوښه ځای کې به ولاړ و. سره له دې چې نورو لیکوالانو به دی د ټولو منځ ته راوستلو، خو دی په یوازیتوب کې خوشاله و. نورو لیکوالانو به هڅاوه، خو دی خجالتي و او ځان ورته بېگانه ډوله ښکارېده. په ونه ټیټ و، زېړ رنگ وېښته او خړې سترگې یې لرلې. تېزې خبرې به یې کولې، خو ډېرې خبرې یې نه خوښېدې.

داستایوفسکي دومره جالب سړی نه و، خو د بریا له امله یې ډېر هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. هغه مغرور شو او د لیکلو له درکه یې په گټلو پیسو شانداره ژوند جوړ کړ. ملگرو یې نیوکې ورباندې کولې او دی یې گزاره یې ژوند ته راباله، خو ده نه منله. همدا و چې خپل نږدې ملگري ان هغه چې دی یې ډېر هڅاوه او ناولونه به یې ورته ستایل، خفه کړل. بیا یې هم خپل پخوانی عادت پر ځای و. پیسې یې لگولې او بادولې. بیا په پورونو کې ډوب شو. له دې حالته د خلاصون لپاره اړ و چې په بېړه او ښه ډېر لیکل وکړي. عصبي تکلیفونه ورته پیدا شول او وېرېده چې سل ناروغي یې ونه نیسي. په دې موده کې یې چې کومې لیکنې کړې دي، دومره ارزښتانکې نه دي. هغه وخت به خلکو ویل چې داستایوفسکي یو په یو مشهور شو، خو اوس یې په جېب کې څه نه دي پاتې او چانټه یې خالي شوه، ځکه نوي او خوندور شی نه شي لیکلی.

ډېره موده نه وه تېره شوې چې د داستایوفسکي د لیکوالۍ کیسه ختمه شوه. له دې وروسته دی له یوې ډلې ځوانانو سره یو ځای شو چې سوسیالیستي مفکوره یې لرله او د مطبوعاتو پر ازادۍ یې ټینگار کاوه. دوی بې آزاره خلک وو او یوازې په اونۍ کې به یې یوه جلسه جوړوله او خپل نظریات به یې سره شریکول. خو حکومت ورباندې خبر شو او دغه ډله یې ونیوله. داستایوفسکي هم په دې ډله کې و او محکمې ورباندې د اعدام حکم وکړ. دوی یې څو ورځې وروسته میدان ته بوتلل او د اعدام حکم یې ورباندې اجرا کولو، خو یو قاصد راغی چې د اعدام سزا دورو او حبس ته راښکته کړی. دوی یې د دار له پایو راخلاص کړل.

له همدې سره د اعدام حکم لغوه کېږي، خو داستایوفسکي په څلور کاله بند محکومېږي. ده په یوه کتاب کې په زندان کې د خپل رواني حالت او هلته د شته ستونزو په اړه بیا ډېر څه لیکلي دي.

له زندانه چې خلاص شو، نو د سایبریا یوه ښار ته د جزایي عسکر په توگه ولېږل شو. هغه سختې شپې او ورځې تېرولې، خو بیا هم خوشاله و. ځکه دی د دار له سره خلاص شوی و، نو هره سزا یې د ځان لپاره عبرت گڼله او د ځان د اصلاح لپاره یې غاړه ور ته اېښوده. په ۱۸۵٦ز کال کې یې د یوه شاگرد په مرسته له عسکرۍ افسرۍ ته ترفیع وکړه او ژوند ورته یو څه د تحمل وړ شو. وروسته دلته په یوه ښځه چې ماریا نومېده مین شو، ښځه هم ورباندې مینه شوه، خو دا چې ماریا سیاسي تبعید شوې وه، نو له دې ځایه بل ځای ته ولېږل شوه. ماریا وروسته له ده لاس واخیست، خو داستایوفسکي سخت ورپسې زړه خپه و. هغه ورباندې گرانه وه، خو غیر مستقیم به یې د ماریا د ژوند په ښه والي کې مرسته کوله. بالاخره ماریا بېرته راگرځې او په ۱۸۵۷ز کال کې له داستایوفسکي سره واده کوي.

په ۱۸۵۹ز کال کې داستایوفسکي د خپلو ملگرو په مټ بریالی شو چې بېرته سن پترزبورگ ته راوگرځي. ده په مسکو کې له خپلې مېرمنې او ورور سره یو ځای ژوند پیل کړ او یوه مجله یې خپروله. د مجلې نوم (وخت) او داستایوفسکي دغه مجلې ته د (مړیو کور) او (خفه خلک) ناولونه ولیکل. مجلې بازار پیدا کړ او تر دوو کلونو د داستایوفسکي ژوند ښه و. دوه کاله وروسته یې مجله ورور ته پرېښوده او دی غربي اروپا ته په سفر لاړ.

یو څه وخت وروسته د یوې مقالې د خپرولو له امله مجله تړل کېږي او داستایوفسکي مجبوره کېږي چې بېرته اروپا ته ستون شي. دی د بېوزله لیکوالانو له مرستندویه صندق پیسې پور کوي او په اروپا کې قمار وربادې وهي. کور یې مېرمن ناروغه وي، خو دی په اروپا کې چکر وهي. څه موده وروسته بېرته مسکو ته راگرځي، بله مجله جوړوي، خو دا نو د هغې پخوانۍ په څېر لوستونکي نه پیدا کوي. ورور یې هم مري او د هغه کونډه ده ته پاتې کېږي.

ده یوه پیسه هم نه لرله، نو ځکه یې د جنایت او مجازات په نامه د کتاب لیکل پیل کړل، چې که وکړی شي له دې درکه پیسې پیدا کړي. داستایوفسکي ناروغ و، پیسې یې نه لرلې، اړ و چې له هرې ممکنې لارې ځان ته پیسې پیدا کړي. هر چا ته یې لاس اوږد کړ، ان تورگنف ته هم اړ شو، چې یو وخت یې جنجال ورسره کړی و. په اخیستو پیسو یې ځان روسیې ته ورساوه. هلته یې یو قرارداد کړی و، چې باید یوه ناشر ته خپل یو رومان په یوه کال کې پوره کړي، خو ده نه و پوره کړی، د قرارداد له مخې ناشر حق درلود چې د رومان د نه پوره کېدو په صورت کې له داستایوفسکي یو اثر په وړیا توگه واخلي او یوه پیسه هم ور نه کړي. دی اړ شو چې د دغه ناول د پوره کولو او بل ناول د لیکلو لپاره یو منشي ونیسي. ده یو تکړه منشي پیدا کړ او د هغه په مرسته یې د قمارباز مشهور ناول په ۲٦ ورځو کې بشپړ کړ.

د داستایوفسکي منشي یوه ۲۰ کلنه مېرمن وه. هغه بدرنگه وه، خو ډېره تکړه وه. وروسته یې له ده سره واده وکړ، څلور کاله وروسته دواړه اروپا ته لاړل او داستایوفسکي بیا د قمار میزونه ته لاړ. هر څه یې چې لرل، لوټ یې کړل او بیا یې پورونو ته مخه کړه. بیا د زوی پلار شو، خو سره له دې یې هم له قمار لاس وا نه خیست.

د روسیې دغه مشهور لیکوال سره له دې چې سخت ژوند تېر کړی، خو په خپلو اثارو کې یې نورو ته ستر درسونه پرې اېښي دي. هغه صادق و او د خپل ژوند تجربې یې صادقانه بیان کړې دي. دی پر روسیه مین و، د اروپا هېڅ ښکلا یې نه خوښېده او بېرته به روسیې ته راستون شو. داستایوفسکي په ۱۸۸۱ز کال کې په ناڅاپي توگه ومړ او د جنازي په مراسمو کې یې زرگونو کسانو گډون کړی و، چې د حیرانتیا منظره یې جوړه کړې وه.

دی وایي، دنیا له خپلو ټولو سختیو، ستونزو او نابرابریو سره ښایسته ده، ځکه خدای پیدا کړې ده. دی وایي، که یو څوک د دنیا له ټولو موجوداتو سره مینه ولري، نو ټولې ستونزې او عذابونه توجیه کولی شي. ده په خپل ژوند کې د ١٦ په شاوخوا کې ناولونه لیکلي دي، لسگونه مقالې، لنډې کیسې او لیکونه یې هم خپاره شوي او چاپ شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤۹۱ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# ځينې هغه عادتونه چې هرڅوک غواړي بدل يې کړي

ژباړه: امان الله «حنيفي»

تقريباً موږ ټول په خپلو ځانو کې داسې عادتونه او ځانګړني وينو، چې د زړه له تله د هغه بدلېدل غواړو. ځينې له دې ځانګړنو زموږ ذاتي او نه تغير منونکې دي، خو ځينې نورې بيا کولای شو بدلې کړو. د «چطور» ويب پاڼې د انسټاګرام پر پاڼه له خلکو پوښتل شوي چې له خپلو کومو ظاهري ځانګړنو ناخوښ دي او غواړي چې هغه بدلې کړي؟ موږ د دوی ځوابونه همدلته را اخلو.

**۱.تنبلي**

۲۱ سلنه خلکو ويلي چې که دوی وتوانېږي چې خپله تنبلي له منځه يوسي، ډېر به خوشال شي. تنبلي له کار کولو سره مينه نه ښودل، د کارونو ځنډول او د هڅو په مقابل کې مقاومت کول، مانا له هڅو لاس اخيستل دي. ځينې وخت زموږ ټولو خوښېږي چې تنبلي وکړو، د بېلګې په ډول، له ډېر او درونډ کار کولو وروسته مو خوښېږي چې يو ساعت ځان د خوب کټ ته ورسوو او يو څه ارام واخلو. خو که مو دا عادت همېشنی شي، مانا هر وخت مو خوښېږي چې استراحت او ارام وکړی، د دې په اړه نو بايد فکر وکړئ او هغو لارو چارو ګټه واخلئ چې پر مټ يې دا بد عادت له منځه يوسئ.

**څنګه له تنبلۍ ځان خلاص کړو؟**

تنبلي د کارونو ځنډولو تر ټولو لوی لامل دی. د تنبلۍ د له منځه وړلو لپاره بايد هره ورځ لس دقيقې پر يو کار تمرکز وکړئ. که لس دقيقې يو ځای له نورو سره يو کار وکړی، حتماً يوې ښې پايلې ته رسېږی. لوی کارونه په کوچنيو برخو ووېشئ. هره برخه چې پای ته رسوی، په طبيعي لحاظ يو ډول انرژي اخلی او پر دې کار مو بيا تکرار له يوې برخې وروسته د بلې برخې شروع کولو ته هڅوي.

استراحت، خوب او ورزش هم له ياده مه باسئ. ځينې وخت تنبلي د انرژۍ د نشتون او خستګۍ له وجې وي، چې د ورزش په کولو سره کولای شی دا له منځه يوسی.

د خپلو موخو او هغه ژوند په اړه چې تاسې يې غواړی هغه ته ورسېږی او دا چې غواړی څنګه يو کس جوړ شی، په دې اړه ښه فکر وکړئ. دا کار تاسې ته انګېزه درکوي.

له ځان سره دا خبره ښه تکرار کړئ: «دا کار به په ښه ډول سر ته رسوم، يا د هغه کار سر ته رسول چې زه يې غواړم، د سر ته رسولو لپاره يې ښه انرژي او انګېزه لرم.»

**۲. کمزورې اراده**

۱۳ سلنه کسانو ويلي چې د دوی ارادې کمزورې دي او دوی غواړي چې پر دې برلاسي شي.

اراده هغه انګېزه ده چې هم له ذهن او هم د نور بدن له انرژۍ را پيدا کېږي. پوهېږی چې نه بايد يا بايد کوم کار وکړی، خو بيا هم نه شی کولای چې د هغه په مقابل کې مقاومت وکړی.

**څنګه خپله اراده پياوړې کړو؟**

خپله مو ځان د هغه تصميم له وجې وستايئ چې تاسې عملي کړی دی. داسې مه وايئ: «نه شم کولای چې دا کار دويم ځلي وکړم»، ځکه دا هغه حلقه ده چې ستاسې د محدوديتونو کړۍ نوره هم را تنګوي. ښه ده چې داسې ووايئ: «دا بد عادت مې بيا نه تکراروم»، د بېلګې په ډول، د «نه شم کولای چې شيريني وخورم» پر ځای ووايی: «شيريني خوړل مې نه خوښېږي.»

په کاپي اندازه خوب وکړئ، بې خوبي د هغه ذهني فشار د رامنځ ته کېدو باعث کېږي، چې له وجې يې بيا په سم ډول نه شی کولی خپل کار ته ادامه ورکړی. د ٦، ۷ او ۸ ساعتونو په انټروال کې خوب کول دا هرڅه له منځه وړي. د ارادې د پياوړي کولو يو لامل دقت، توجه او د سټريس مديريت کول دي. حد اقل اته اونۍ مو دا هرڅه تعقيب کړئ، هغه ده چې بيا به مو د نورو کارونو په سر ته رسولو کې اراده د مخکينۍ هغې په پرتله پياوړې شي.

د ارادې د پياوړي کولو يو بل لامل دا دی چې تاسې مو کارونه مه ځنډوئ، هغه کسان چې خپل کارونه سبا او بلې ورځې ته پرېږدي، د هغوی په پرتله چې خپل کارونه په خپل وخت سر ته رسوي، کمزورې ارادې لري.

**۳. د غوسې کنټرول**

اته سلنه کسانو ويلي چې دوی له خپلو بدو اخلاقو او دا چې نه شي کولای خپله غوسه کنټرول کړي، سخته اندېښنه لري. ايا کله داسې شوي چې له ترافيکو سره د مخ کېدو پر مهال هغوی ته په غوسه شوي ياستی؟ ايا کله داسې شوي چې تاسې خپل ماشوم ته يو کار سپارلی او د هغه له نه کولو يا سم نه سرته رسولو له امله هغوی ته په غوسه شوي ياستی؟ د غوسې احساس کاملاً طبيعي دی، خو ښه دا ده چې پر هغه خپل کنټرول ولرو. غوسه کولای شي زموږ پر روح او روان حتی کله کله جسمي حالت ته هم زيان ورسوي.

**څنګه خپله غوسه کنټرول کړو؟**

ممکن د غوسې پر مهال داسې څه ووايې چې وروسته به پرې پښېمانه وی. دا وخت يوازې يو څو دقيقې صبر وکړئ او پرېږدئ چې يو څه ارام شی. له هغه وروسته بيا د خپلې غوسې د دلايلو په اړه پوښتنه وکړئ. مقابل لوری به هم په دې اړه د هغوی په نظر منطقي دليل لري. ښه ده چې له هغه سره له نرمې لارې مخکې لاړ شئ.

پر هغو څيزونو چې ستاسې د غوسې لامل کېږي، د هغوی پر حللارو فکر وکړئ. ايا ستاسې د اوسېدو په خونه کې به ستاسې د ماشومانو شور ماشور تاسې په غوسه کړي؟ د دې پر ځای چې داسې څه ستاسې د غوسې لامل شي، ښه ده چې هغې خونې ته لاړ شئ چې هلته څوک وي. د ژوند ملګرې/ملګري مو د شپې ناوخته کور ته راځي او تاسې نه شی کولای چې له هغه/هغې سره يو ځای د ماښام ډوډۍ وخوری؟ دا چې تاسې بې ښه و بې بده هغه ته په غوسه شی، ښه ده چې لومړی له هغه کور ته د پس راتللو په اړه پوښتنه وکړئ. که د هغوی ځواب قانع کوونکی و، ښه ده چې د لا ښه ژوند کولو په پار په رخصت ورځو کې له هغه/هغې سره يو ځای کوم ځای ته په چکر لاړ شئ او له هغه سره يو ځای ډوډۍ وخورئ. ښه ده چې دا وخت له پيغور ورکولو ځان وساتئ، ځکه دا کار بيا ټولې اړيکې زيانمنوي.

دا ومنئ چې ځينې کسان ښه ژوند لري يا يې ښې زده کړې کړې وي او ښه کاروبار لري. له هغوی سره کينه مه کوئ، له هغوی سره کينه ساتل مو په اسانه بيا په غوسه کوي او دا چې تاسې بيا حق نا حق په غوسه ياستی، دا مو بيا شخصيت ته سخت تاوان رسوي.

## عبدالله: د بين الافغاني خبرو د پيل لپاره د شرايطو اېښودل، سولې ته نه ژمنتيا ښيي

د ملي يووالي حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله ويلي، د تاوتريخوالي کمولو په اړه هر ګام به د سولې خبرو د بهير او مرګ ژوبلې د پای ته رسولو په برخه کې مثبت اغېز ولري.

نوموړي تېره ورځ د وزيرانو شورا په غونډه کې ويلي چې د بين الافغاني خبرو د پيلېدو لپاره شرط نه لري او زياته کړې يې ده چې په دې اړه د افغان سولې لپاره د امريکا له ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سره غږېدلی دی.

عبدالله دغه راز ويلي چې د مذاکراتو په جريان کې به د خلکو غوښتنې تعقيب کړي. هغه ويلي: «زه يو ځل بيا اعلان کوم چې د مذاکراتو پيلېدو لپار شرط نه لرو، خو د مذاکراتو په جريان کې يو ټولمنلی پلاوی چې د افغانستان د اکثريت خلکو د غوښتنو استازيتوب به کوي، خپل شرطونه او شرايط به ولري.»



عبدالله داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې ولسمشرۍ ماڼۍ د بين الافغاني خبرو د پيلېدو لپاره د طالبانو له خوا د اوربند پر ټينګېدو باندې د خپل لومړني شرط په توګه ټينګار کړی دی.

ارګ د تاوتريخوالي کمېدو له طرحې سره د مخالفت په ښودلو سره هغه غير عملي بللې او ټينګار کوي چې د طالبانو له خوا د اوربند له ټينګېدو پرته د سولې په تړاو رواني هڅې به بې پايلې وي.

خو عبدالله د بين الافغاني مذاکراتو د پيلېدو لپاره شرط اېښودل د سولې خبرو ته نه ژمنتيا بللې ده.

پر همدې مهال د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد کابل ته د خپل وروستي سفر پر مهال شنبه او يکشنبه له افغان چارواکو او افغان سياسيونو سره د ليدنو پر وخت ويلي، چې د سولې خبرو لپاره يو هر اړخيز او ټول شموله پلاوی دې رامنځ ته شي او «بين الافغاني» خبرو ته دې چمتووالی ونيول شي.

په ورته وخت کې په کابل کې د امريکا سفارت له افغان چارواکو سره د خليلزاد د ليدنو په پای کې د هغه له خولې ويلي، چې په افغانستان کې د تاوتريخوالي کمولو او له طالبانو سره د يوې هوکړې د رامنځ ته کېدو په برخه کې د امريکا هڅې به بين الافغاني مذاکراتو او په دغه هېواد کې د ثبات ټېنګېدو ته زمينه برابره کړي.

## سيګار: طالبانو د ۲۰۱۹ ز کال په وروستيو دريو مياشتو کې ۸۲۰۴ بريدونه کړي دي

د افغانستان د بيارغونې لپاره د امريکا سرمفتېش ادارې يا سيګار په خپل تازه راپور کې ويلي چې د طالبانو په بريدونو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

سيګار دغه راز ويلي چې طالبانو د ۲۰۱۹ ز کال په وروستيو دريو مياشتو کې ۸۲۰۴ بريدونه کړي دي.

د راپور له مخې، دغه شمېرې د تېر ۲۰۱۸ ز کال په پرتله ۱۷ سلنه زياتوالی ښيي، په داسې حال کې چې د تېر کال په همدې موده کې طالبانو په افغانستان کې ٦۹۷۴ بريدونه کړي وو.

د طالبانو د بريدونو دغه زياتوالی هغه مهال ښودل شوی چې په ۲۰۱۹ ز کال کې د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خوا د واشنګټن او طالبانو تر منځ د سولې خبرې ودرول شوې او دغه راز د تېر کال په سپټمبر مياشت کې د افغانستان ولسمشرۍ ټاکنې وې.

SIGAR
SPECIAL INSPECTOR GENERAL FOR
AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

د سيګار د راپور له مخې، دغه بريدونه تر ډېره د افغانستان په شمال- ختيځ کې شوي دي.

د راپور په بله برخه کې راغلي، دا نه ده څرګنده شوې چې د طالبانو بريدونه به د دوی تر ولکې لاندې سيمو کې د اساسي بدلون لامل شوي وي او که نه؟ ځکه د امريکا حکومت د ۲۰۱۹ ز کال له پيل راهيسې د طالبانو تر ولکې لاندې سيمو په تړاو په منظم ډول د ارزونې په تړاو راپور نه ورکوي.

له دې سره افغان سياستوال تمه لري چې زلمی خليلزاد به له حکومتي مشرانو او سياستوالو سره تر کتنو وروسته، د تاوتريخوالي د کمښت طرحه وروستۍ کړي.

په همدې حال کې سرچينې وايي چې د طالبانو او امريکا تر منځ د سولې خبرې حساس پړاو ته رسېدلې او دواړه لوري د يوې هوکړې د لاسليک لپاره سلامشورې کوي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د فبرورۍ څلورمه | ۵۰۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ۱۳ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۱ | ۱۰ |
| -۸ | ۲ | -۲ | ۱ | ۳ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۵ | لمر ختل ۰۶:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۰۳ | ماښام ۰۵:۲٤ | ماخوستن ۰٦:۵۰

# کمیسیون شکایات: در مورد ۵۰ درصد قضایای استینافی تصمیم اتخاذ شده است



کمیسیون شکایات انتخاباتی می گوید که در مورد ۵۰ درصد از آرای جنجالی و قضایای استینافی، فیصله صورت گرفته و در جریان هفته روی موارد باقی مانده نیز تصمیم اتخاذ می شود.

محمد قاسم الیاسی کمیشنر و سخنگوی کمیسیون شکایات انتخاباتی به رسانه ها گفته است که به شدت، روی اعتراضات استینافی کار جریان دارد.

وی با بیان اینکه ۵۰ درصد از قضایای استینافی و در مورد ۳۰۰ هزار رای جنجالی تصمیم اتخاذ شده است، گفته است که کمیسیون تلاش دارد که تا دو روز آینده، در مورد قضایای باقی مانده نیز تصمیم بگیرد.

موصوف افزوده است که در تصامیم شان، همه موارد در نظر گرفته شده است و مطمئن اند که این تصامیم، مورد حمایت دسته های انتخاباتی و شهروندان قرار می گیرد.

اما الیاسی، در مورد ۵۰ درصد تصامیم گرفته شده، جزئیات بیش‌تر ارائه نه کرده است.

این در حالیست که کمیسیون شکایات انتخاباتی، در (اول دلو) سال روان، رسیده گی به اعتراضات استینافی را آغاز کرد.

در انتخابات ششم میزان سال جاری، مردم به ۱۳ کاندید رای داده اند. به اساس نتایج ابتدایی که به تاریخ اول جدی اعلام شد، تیم محمد اشرف غنی بیش از ۵۰ درصد و پس از آن، تیم عبدالله عبدالله بیش از ۳۹ درصد رای دارد؛ اما نتایج نهایی آن، تاهنوز اعلام نشده است.


## نړۍ



هواچونینګ: د کرونا ویروس د خپرېدو په تړاو د امریکا اقدامات ګواښوونکي دي

۳

# راپورونه: د سوریې په ادلیب کې حکومتي ځواکونو ۱۴ ملکیان وژلي



د راپورونو له مخې، د سوریې په ادلیب ښار کې د بشارالاسد د رژیم او روسیې په هوایي بریدونو کې ۱۴ ملکیان وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې ادلیب ښار د سوریې د حکومت د مخالفې ډلې وروستی مرکز دی چې له څه مودې اوربند وروسته پکې یوځل بیا نښتو زور اخیستی دی. د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي چې د سوریې حکومتي پوځیانو د روسیې په ملاتړ په ادلیب باندې درنه بمباري کړې، چې یاده مرګ ژوبله پکې اوښتې ده.

د دې ډلې په خبره، د ۱۴ وژل شویو له ډلې اته تنه د یوې کورنۍ غړي وو چې د سوریې د حکومت د بېلړي بمونو په برید کې وژل شوي دي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، په وژل شویو کې ماشومان هم شامل دي. سرچینه زیاتوي، د دغو بریدونو په زیاتېدو سره زرګونه کسان له ادلیب ښار څخه تښتېدلي دي.

د یادونې ده چې له تېر ۲۰۱۹ ز کال راپدېخوا د ترکیې، روسیې او امریکا په منځګړیتوب په ادلیب ښار کې پر اوربند هوکړه شوې وه، خو اوس ښکېل اړخونه یو او بل د اوربند پر ماتولو تورنوي او هلته جګړو بیا زور اخیستی دی.

# د اسلامي هېوادونو د همکارۍ کنفرانس: غړي هېوادونه دې د ټرمپ د نوي پلان په پلي کېدو کې مرسته نه کوي

د اسلامي هېوادونو د همکارۍ کنفرانس پر خپلو ټولو ۵۷ غړو اسلامي هېوادونو غږ کړی چې د اسراییلو او فلسطین لپاره د ولسمشر ټرمپ د اعلان شوي پلان په پلي کېدو کې مرسته ونه کړي. دغه کنفرانس په نړۍ کې د څه باندې ۱.۵ میلیاردو مسلمانانو استازیتوب کوي. د کنفرانس غړو تېره ورځ د سعودي عربستان په پلازمېنه ریاض ښار کې په یوه غونډه کې دا پرېکړه کړې ده. دوی دغه راز ویلي چې د ولسمشر ټرمپ په اعلان شوي پلان کې د فلسطینیانو حقونه په پام کې نه دي نیول شوي او دا پلان د سولې د بهیر او شرایطو خلاف دی. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ تېره سه شنبه په سپینه ماڼۍ کې د اسراییلو له لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو سره په ګډ خبري کنفرانس کې دا پلان اعلان کړ او ویې ویل: «دغه طرحه له پخوانیو طرحو سره زیات توپیر لري او په پوره جزیاتو تر ټولو کامله طرحه ده. زیاتې طرحې موجودې وې چې یو په بل پسې ماتې شوې؛ ځکه چې په هغو کې اندول نه و مراعات شوی.»

په دغه پلان کې بیت المقدس د اسراییلو رسمي پایتخت پېژندل کېږي.

خو د اسلامي هېوادونو د همکارۍ کنفرانس ټینګار کړی چې د بیت المقدس ختیځه برخه د فلسطینیانو د راتلونکي دولت مرکز او دا د عربو او مسلمانانو یو هویت دی.


## ژونـــد

# ښځه ښه وینا وکړو؟



د دې لپاره چې د ښې وینا کولو مهارت زده کړی، لومړی باید پر موضوع پوره حاکمیت ولرئ او له هغه څه څخه چې غواړئ وې وایئ، ځان ډاډه کړئ. هغه څه چې غواړئ خپلو مخاطبانو ته یې ووایئ، په اړه یې پوره مطالعه او څېړنه وکړئ. کتابونه وګورئ، په انټرنېټ کې پسې وګرځئ او د دې برخې له پوهانو سره خبرې وکړئ، څو مو معلومات پوره وي او که کله هم کوم مخاطب درنه پوښتنه کوي، وکولای شئ په پوره دقت او ډاډ سره ورته ځواب ووایئ. څومره چې د ټاکلې موضوع په اړه ډېر معلومات ولرئ، په هماغه کچه به مو پر ځان باور هم زیات وي او دا بیا د دې لامل ګرځي چې په پایله کې تاسو په ډېر لوړ جرئت سره خبرې کولای شئ او تر تاثیر لاندې نه راځئ. که غواړئ چې د وینا کولو مهارت مو لوړ شي، باید خپل مخاطبان یا هغه کسان چې غواړئ ورته وینا وکړئ، په اړه یې فکر وکړئ او ویې پېژنئ.

# امیدوارې مېرمنې باید خپل غذایي رژیم ته پام وکړي



د امیدوارو مېرمنو لپاره ښه خوراک، څښاک او استراحت یوه جدي اړتیا ده، ځکه د خپلې روغتیا تر څنګ یې د ماشوم روغتیا هم اړینه ده. امیدوارې مېرمنې باید په هغه کچه انرژي واخلي، په کومه اندازه چې اړتیا ورته لري. که د دوی مصرفي انرژي، له اخیستونکې انرژۍ څخه کمه وي، پر مور او ماشوم منفي اغېز کوي. د حاملګۍ په وخت مېرمنې باید د وزن بایللو کوښښ ونه کړي، بلکې په عادي شکل خپلو ورځنیو کارونو ته دوام ورکړي. د امیدوارۍ په مهال اړینه ده، چې میندې خپل غذایي رژیم ته پام وکړي. په زیاته اندازه ویټامینونه، پروټین او منرالونه واخلي. له دې ورهاخوا د امیدوارو مېرمنو لپاره استراحت تر ټولو غوره سپارښتنه ده. د ورځې پر مهال د کارونو په منځ کې استراحت د مور او ماشوم د روغتیا لپاره خورا اړین دی.

د حاملګۍ پر مهال د زیاتو اوبو څښل اړین دي. ډاکتران امیدوارې مور ته کم تر کمه د ۱۲ ګیلاسه اوبو سپارښتنه کوي.

اچار، مرچک او مالګین خواړه د امیدوارو میندو لپاره ضررناک تمامیدلی شي.

خپله سوداګري د عزیزي بانک جاري حساب سره بدایه کړئ
• دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غیر دولتي انجوګانې او سفارتونه پرانیستلی شي.
• حساب په افغانیو/ امریکایي ډالرو/ یورو او انګلیسي پونډو پرانیستل کیدای شي.
• د پیسو په زیاتولو او ایستلو کوم لګښت نه راځي.
• د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتیایي پیغام خدمتونه
• د لویو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امریکایي ډالر/یورو/انګلیسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امریکایي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندویه فیس څخه اړیني دي.
د زیاتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او یا مونږ سره په 1515 شمیرې اړیکه ونیسئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af